Behtareen research



س- پښتانه څوک دي؟ په دلیل سره پورې بحث اوکړئ.

۱- پیژندنه:

د پښتنو د اصل او نسب په باره کښې د مختلفو راسي ډېر روایات او نظریات دي څو معروف مستشرق راورټي وئیلي دي " د عجیبې قوم د اصل او نسب په باره کښې د نظریو اختلاف دومره زیات نه دی. ځکه د پښتنو د اصل اونسب په باره کښې چې دي." د پښتنو د اصل او نسب باره کښې بے شماره نظریې دي خو په دې لوړو کښې جامع، مشهوره او د لوړو نه زړه نظریه دا ده چې پښتانه بني اسرائیل دي. او دا روایت ابوالفضل "آئین اکبري" کښې راوړي دي چې په ۱۵۹۷-۹۸ کښې لیکلي شوي دي.

۲- د اصل او نسب په حقله د پښتنو باره کښې نظریې:

د پښتنو د اصل نسب په باب کښې مختلف نظریات دي.

۱- اوله نظریه - یعنې پښتانه بني اسرائیل:

د پښتنو د اصل نسل په باب کښې یوه مشهوره او لیکوالانو نظریه دا ده [illegible] چې پښتانه بني اسرائیل دي. د نظریه په اول ځل "مخزن افغاني" نومې کتاب کښې مولا نعمت الله هروي پیش کړے وه چې په ۱۰۳۰ هـ کښې لیکلې دي. او داسې نور هم ډېر زیات داځل دي نظریې باره کښې موجود دي.



Scanned with CamScanner

## ۲- دویمه نظریه - یعنی پښتانه آرین دي:

د پښتنو د اصل نسل په حقله لومړۍ نظریه داده چې پښتانه د هغه آریائي قبائلو لویه څانګه ده. کوم چې په تاریخ کښې د هند و آروپائي آریاګانو په نامه مشهور دي. دا نظریه د لفظ پښتون او پښتو ژبې په تاریخي او لغوي بحث مبني ده. په دې نظریې کښې واضحه دلائل ډېر کم دي.

## ۳- دریمه نظریه - یعنی پښتانه بني قطوره دي:

ځینې خلق دا نظریه هم لري چې پښتانه د حضرت ابراهیم ع د بي بي قطورې اولاد دي. د دې نظریې پلویان وائي چې د بي بي قطورې شپږ ځامن وو چې په قرآن کښې د دوه ځامنو یقسان او مدیان ذکر راغلي دي او وائیلې شي چې دې بیا باختر ته راغلي وو کوم چې د پښتنو نیکونو نیکوانې قوم وو. خو دې نظریې هیڅ څه معیاري دلیلونه نشته.

## ۳- د پښتنو اصل نسل:

د پښتنو د اصل نسل په حقله مشهورې نظریې د ضروري تفصیل سره بیان کړې شوې. زما په خیال د پښتنو د اصل نسل صحیح نظریه داده چې پښتانه بني اسرائیل دي ځکه چې د دې نظریې دلائل ډېر سره زیات موجود دي او ډېر غټ غټ پلویان لکه نعمت الله هروي، حافظ رحمت خان، سر ولیم جونس، خوشحال خان خټک، افضل خان ههبري او اباسین یوسفزي د دې نظریې تائید کړې دي.

M T W T F S DATE: ____________

## ۴- پښتانه بني اسرائيل دي - د بني اسرائیلو شجره نسب:

خوشحال خان خټک بابا فرمائي:

> په نښانښت بالذي یې ختم دا وینا ده
>
> چې په اصل د یعقوب قوم و تبار دي

خوشال بابا نن نه دري سوه کاله مخکښې فرمائیلي دي چې پښتانه د یعقوب ع نسل دے تحکه دومره بنا کښتع دي.

## ۵- د پښتنو شجره - په (۱) ي بر خو کښې:

د پښتنو شجره نسب د [illegible] حضرت ابراهیم ع نه شروع دے او تر نن زمانے د پښتنو قبیلو یعنې یوسفزے، داؤدزے، محمدزو او خلیل پورے دے خو د اسان تیا د پاره دا شجره نسب په (۱) ي بر خو کښې ولیشم.

### ۱- اوله برخه - د ابراهیم ع نه اعلیٰ ساؤل (ملک طالوت) پورے: (د حافظ رحمت خان "خلاصة الانساب" مطابق)

حضرت ابراهیم ع ← حضرت اسحاق ع

→ حضرت یعقوب ع ← بنیامین

← بکورت ← صرور ← امی ابل

→ قیس

→ اعلیٰ ساؤل

(ملک طالوت)

د خواجه نعمت الله هاروي "مخزن افغاني" په قول د پښتنو وجود مورث اعلیٰ ساؤل یعنې ملک طالوت اسرائیلي دے۔ ملک طالوت د حضرت یعقوب ع په دولسو ځامنو کښې د بنیامین په اولاد کښې دے۔ (سید بهادر شاه ظفر کاکا خیل "پښتانه د تاریخ په رڼا کښې" کیلي چې دا خبره د تورات نه هم صابیته ده).

Babar Paper Product

Scanned with CamScanner

## ۲- دویمه برخه – د ملک طالوت نه تر حضرت قیس عبدالرشید پورې:

د تاریخ خان جهانی

مخزن افغانی مطابق ملک طالوت اووه ځلو پښت کاله د بنی اسرائیلو بادشاه وو. طالوت د یو جنګ د پاره تلو نو د سلطنت امور یې حضرت داؤد ع ته وسپارل. د دغه وخت کښې د طالوت دوه ښځې حمل سره وې نو داؤد ع ته یې را نصیحت اوکړو چې زه مړ شوم نو زما د ځامنو به "برخیا" او "ارمیا" نومونه کیږدې. طالوت به دغه جنګ کښې مړ شو او ساعت روسته پس یې دوه ځامن پیدا شول چې د داؤد ع په سرپرستۍ کښې وو. داؤد ع یو له نوم "ارمیا" او بل له "برخیا" کښېښودو. څه وخت پس "برخیا" د حضرت داؤد ع وزیر اعظم او "ارمیا" سپه سالار مقرر شو. څه زمانه پس ارمیا او برخیا دواړو ودونه اوکړل. او دواړو ته خدائے یو یو ځوئے ورکړو. "برخیا" د خپل ځوی نامه "آصف" او "ارمیا" د خپل ځوی نامه "افغانا" کښېښوده.

ملک طالوت
↓ ارمیا ← افغانا ← شموئیل ← سلول ← عیس ← قیس عبدالرشید
↓ برخیا ← آصف

حواله: پښتانه د تاریخ په رڼا کښې (سید بهادر شاه ظفر کاکا خیل)

M T W T F S    DATE:

## د بني اسرائيلو او بني افغان هجرت:

آصف اتلس ځامن وو او د ارميا د ځوی افغانا څلويښت ځامن وو د برخيا د ځوي
د حضرت سليمان ع د وفات نه پس د بابل باچا بخت نصر په يروشلم حمله اوکړه او په دے حمله کښے ډير بني اسرائيل اووژلے شول او ځنے ډير ئې قيد کول او بابل ته ئې هجرت اوکړو۔ په دې کښې افغانا سره د خپلو څلويښت ځامنو موجوده افغانستان علاقې ته هجرت اوکړو۔

### ۳- دريمه برخه - د قيس عبدالرشيد نه تر موجوده پښتنو قبائيلو پورے:

### ۱- د قيس عبدالرشيد شجره:

قيس په څلور ديرشمه پيړۍ کښې افغانا بن ارميا ته او په اوه ديرشمه پيړۍ کښې ملک طالوت ته۔ په دوه څلويښتمه پيړۍ کښې حضرت يعقوب ع ته، په پنځه څلويښتمه پيړۍ حضرت ابراهيم ع او په درے شپيتمه پيړۍ کښې حضرت آدم ع ته رسي۔
(دا شجره سيد بهادر ظفر کاکا خيل "پښتانه د تاريخ په رڼا کښې" نقل کړې ده).

### ۲- حضرت خالد رض او پښتانه:

د حضرت سليمان ع د وفات نه پنځلس سوه کاله پس د حضور اکرم ص ظهور اوشو او د حضور ص د هجرت نه اته کاله پس حضرت خالد ابن وليد رض د غور بني اسرائيلو ته يو خط اوليکو، چې په کښې


Babar Paper Product

Scanned with CamScanner

پې د حضور اکرم ص د نبوت او ظهور خبر ورکړے وو۔
د هغه وخت قیس د کوه سلیمان په علاقه غور مرغې
کښې اوسېدو. کله چې اصحابو د خالد رض خط راوړو او
پښتنو سره یې شپې او ورځې تیرې کړې نو پښتنو ته او وائیل
چې ستاسو طور طریقې او د اسلام احکامات ډیر نږدیکت
لري. بیا بني اسرائیلو د قیس په مشرۍ کښې مدینې ته لویه
جرګه اولیږله. قیس سره د څلو پښتنو مشرانو حضور اکرم ص
سره ملاقات اوکړو او په حضور ص یې ایمان راوړو. حضور ص
د قیس ایراني نوم بدل کړو او اسلامي نوم یې ورله عبدالرشید
کېښودو. حضور ص عبدالرشید ته د ملک او بطان خطابونه هم ورکړل.
(قاضي عطاؤالله خان مرحوم د المنظریه نقل کړم لیده.)

## ۳- د قیس عبدالرشید د ځامنو شجره:

حضرت خالد رض
خپله لور ساره بي بي عبدالرشید ته په نکاح ورکړه. قیس
سره د خپلو ملګرو خپلې علاقې ته راغلو او د اسلام په خورولو
کښې ګلیا شو. تر دے چې په ۴۱ هـ کښې په یو جنګ کښې
شهید شو. د ده څلور ځامن وو۔ سړبن، بیټن، غورغښت،
او کرلان. دا د موجوده پښتنو د اکثرو قبائیلو مورثان
اعلی دي. (د دي تصدیق سر اولاف کېرو خپل کتاب "دی
پټهان" کښې هم کړے دے.)




M T W T F S DATE:


# ۴- سړبني اول - مغربي افغان :

د قیس عبدالرشید

د ځوی سړبن نه دا شاخ شروع شوي دي چې په مغربي افغان او مشرقي افغان مشتمل دے۔




# سړبني شاخ دوئم - مشرقي افغان :




Babar Paper Product

## ۵- کرلاڼي د اولاد شجره:

- کرلاڼ
  - کوډی
    - اتمان
      - اتمان خیل
    - دلزاک
      - دلزاک
    - اورک
      - اورکزي
  - ککی
    - سلیمان
      - وزیر
      - بنګښ (ملک میر)
    - شیتک

## ۶- بیټن د اولاد شجره:

- بیټن
  - وړشپون
  - کیچین
    - (وړشپون او کیچین:) بنوں او ټانک
  - بي بي متو
    - غلزوي
    - ابراهیم لودي
      - نیازي (نیازی)
      - سیاڼي
      - دوتاڼي

## ۷- د غورغشت د اولاد شجره:

- غورغشت
  - داني
    - کاکړ
    - پاڼي
      - پاڼي
        - (سبي)
      - ګدون (مردان او هزاره)
      - موسی خیل (بلوچ سرحد)
      - صافي (پېښور او باجوړ په سرحد)
    - داوي
  - بابی
  - مندو
    - مندو خیل (ژوب)

Babar Paper Product

Scanned with CamScanner

د قیس عبدالرشید د ځامنو د شجره نسب ابا سین یوسفزي صیب د تواریخ حافظ رحمت خان د خلاصة الانساب نه نقل کړے دي، او حافظ رحمت خان د اخون درویزه بابا د تذکرة الابرار والاشرار نه را نقل کړے دي او تفصیل یې په تواریخ شیر شاهي او تواریخ خان جهاني لودهي کښې موجود دے۔

## ٦- د بنی اسرائیلي نظریې په حق کښې پوهان او لیکوال:

ګڼ شمیر پښتانه پوهان او لیکوال د دې نظریې تائید کړے دے۔ پښتنو پوهانو نه علاوه هم یو شمیر مستشرقین هم د دے نظریې قائل دي چې پښتانه بنی اسرائیل دي۔

## ١- د دې نظریې په حق کښې پښتانه پوهان او لیکوال:

① خواجه نعمت الله هروی په خپل کتاب تاریخ خان جهاني مخزن افغاني کښې په بنی اسرائیلو نظریې باندې تفصیلي لیک کړې دے۔

② خوشحال خان خټک بابا نن نه دي سوه کاله مخکښې وئیلي دي چې پښتانه بنی اسرائیل دي۔ خوشحال بابا وائي

په سناخت باندې یې خټک داو پنا ده

چې په اصل د یعقوب قوم و تبار دي

د خوشحال بابا دا خبره حقیقت ته هم یو نږدې ده ځکه دغه وخت کښې دومره اختلاف نه وو۔

③. افضل خان خټک په خپل کتاب تاریخ مرصع
کښې د پښتنو د بني اسرائیلو مرسته کړې ده۔

④. حافظ رحمت خان په خلاصة الانساب کښې د موجوده
پښتنو قبائیلو نه واخله تر د حضرت ابراهیم ع پورې
شجره رانقل کړې ده۔

⑤. زردار خان ناغر په صولت افغاني کښې ددې نظریې
مکمل مرسته کړې ده۔

⑥. لوزک افغاني، شوکت افغاني او خورشید جهاني کتابونو
هم دا نظریه رانقل کړې ده۔

⑦. په موجوده وخت کښې د پښتنو نامور لیکوال پروفیسر
ډاکټر اباسین یوسفزے صیب د بني اسرائیلو د نظریې
قائل دے۔

⑧. سید عبدالجبار شاه ستانوي په رساله بني اسرائیل یا ملت افغان
کښې ددې نظریې مرسته کړې ده۔

⑨. قاضي عطاءالله خان مرحوم په خپل کتاب د پښتنو تاریخ
کښې دا نظریه لیکلې ده۔

## ۲- مستشرقین د پښتنو د بني اسرائیلو نظریې په حق کښې:

①. سر ولیم جونز ولومړے مستشرق وو چې د پښتنو د اصل نسب
په حقله یې ددې نظریې تائید کړے دے چې پښتانه
اصلاً بني اسرائیل دي۔



Scanned with CamScanner

② - الیګزېنډر برنس په خپل کتاب بخارا ته سفر کښي دا خبره لیکلي ده چې پښتانه بني اسرائیل دي۔

③ - جورج روز په خپل کتاب افغانان لس قبیلې او د شرق سلطانان کښي د دې نظریې تائید کړے دے۔

④ - مسټر راورټي هم د دے نظریې مرسته کړے ده۔

## ۷- د بحث خلاصه:

د پښتنو او مستشرقینو لوئو لوئو لیکوالو د دلائلو په رڼا کښي دا واضحه شوه چې پښتانه بني اسرائیل دي او د اوسه وخت نه واخله تر د قیس عبدالرشید پورې او بیا افغنه پورې، بیا ملک طالوت، بنیامین او حضرت یعقوب ع پورې یې شجره نسب رسیدلي دے۔ د پښتنو د لوړو نظریو په مقابل د بني اسرائیلو د نظریې دلائل او مرسته کوونکي ډېر موجود دي او لوئو نه غټه مثال یې خوشحال خان خټک بابا دے۔ او د اباسین یوسفزے صیب د وینا مطابق "کیدیشي چې د پښتنو لو قبیله نیمه آریا هم وي." خو جامع خبره داده چې پښتانه بني اسرائیل دي۔

Scanned with CamScanner